**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د غوطې ناورين، له حق څخه د باطل د بېلېدلو وخت

**(ژباړه)**



هغه چلونه او وحشتناک ناورينونه چې په دغو څو کلونو کې د سوريې د خلکو پر وړاندې ترسره شول، له دې مخکې نه وو تر سره شوي. د سوريې د مسلمانانو پر وړاندې ځکه دغه دسيسې او جنايات وشول چې دوی يوازې دا ويل: «ربي الله (زموږ پرودگار الله دی)»، حق غوښتونکي غړونه چې له مسجدونو (هغه ځايونه چې الله سبحانه وتعالی پکې برکت اچولی دی) څخه راوتل او د الله سبحانه وتعالی دين ته يې بېرته راستنېدل غوښتل.

دغه دسيسې چې د سوريې د مسلمانانو پر وړاندې سرته رسېدلې، بېلابېل اساليب او بڼې يې درلودې او دا چې د سوريې انقلاب سياسي مخلص رهبر نه درلود او د مخلصو سياسي اشخاصو نصيحتونه يې وانه ورېدل، د ډېرو استعمارگرو دولتونو دسيسو پرې اغېز وکړ. د دوی موخه دا وه چې د اسلامي امت بچيان وغولوي، په ځانگړي ډول د دولت د مخالفو ډلو رهبران. په دې دسيسو کې بريالي هم شول د دولت د مخالفو ډلو رهبرانو فکر کاوه چې دښمن غولوي په داسې حال کې چې دښمن نه، بلکې امت غولوي، د دښمن نقشې او امرونه پرځای کوي، له هغوی سره په دسيسو کې مرسته کوي او هغو خيالي موخو ته د رسېدو لپاره چې دغو ډلو ځانته ټاکلې دي او يا جنايتکارانو وعده ورکړې، د ډلو با ارزښته قربانۍ بې ارزښته کوي او په حقيقت کې دا وعده شيطان ورکوي او له غولونې پرته بل څه نه دي.

ډېرې سيمې لکه: حمص الوليد، ساحلي سيمې او ستراتېژيک تنګي، حلب او د فرات سيمې، ښارونه او صحرايي سيمې، د حومه حماة او ادلب سيمې، د ختيځې او لوديځې غوطې سيمې، چې د سوريې مرستندويو نظامونو او ځواکونو ماتې نه شوی ورکولی، وتوانېدل چې يادې سيمې تر خپل واک لاندې راولي. په دې دليل چې دغه ټولې پېښې او عمليات د دغه نظام او هوکړه کوونکو په قوت يې نه دي شوي، ځکه هغوی نه شوی کولی چې په خپل ځواک باندې هغه ځای چې په اخلاص او صدق سره دفاع ترې کېږي، په خپل واک کې راولي، چې د انقلاب تاريخ په دې ګواهي ورکوي. کله چې حلب، فرات او صحراګانې يې دښمن ونيولې، دښمن نه شوی کولی د جوبر  په سيمه کې، هغه ښار چې د جمهوري رياست ماڼۍ ته څو ميله نږدې پروت دی يو متر هم مخکې لاړ شي، خو کله چې خاينو چارواکو د ډلو رهبرانو ته دستور ورکړ، د سيمې مخالفو ډلو په يوه اشاره سره جوبر او شاوخوا سيمه دولت ته تسليم کړې.

په همدې ډول د دغو خيانتونو له امله د سوريې جنوب هم دښمن ونيوا. د بېلګې په توګه: کله چې د سوريې نظام د مختلفو ډلو د نظاميانو سربېره، د روسيې د هوايي ځواکونو او نورو ملګرو ملاتړ يې په درې لويو سنګرونو کې د (څلورم، پنځم او پنځلسم سنګر) په نوم، د درعا په سيمه کې را وغوښت، ويې نه شوی کړلی چې يو متر هم مخکې لاړ شي، بلکې برعکس انقلابيانو په همدغه سيمه کې د منشيې مهمې برخې هم ازادې کړلې. خو له بل لوري د سوريې نظام نورې سيمې لکه: خربة غزاله چې يوه ستراتيژيکه سيمه ده همدارنګه د شيخ مسکين سيمه او په مثلث الموت کې نورې سيمې هم په ډېره اسانۍ سره په خپل واک کې کړې، چې له خيالي جګړو پرته بل هېڅ مقاومت ونه شو.

نو په هغو جګړو کې چې د سوريې نظام ډېرې سيمې ونيولې، په دې معنا نه دی چې دا نظام بېرته له هغه قوت او ځواک څخه برخمن شوی دی چې تر انقلاب وړاندې يې درلود، بلکه په دې معنا دی چې کله د مخلصو جګړه مارو له ډلې سره مخ شوی ماتې يې خوړلې او د غوطې په شمول په ټولو نورو جنګي سيمو کې داسې پېښې شول. کله چې د مخلصو جګړه مارو ډلې د شهادت تر سرحده ژمنه وکړه، ويې کولی شول چې د سوريې ځواکونه د مسربا له ښار څخه په شا وتمبوي او لسګونه نور يې ووژني.

هغه څه چې د غوطې د ماتې او تسليمېدو لامل شول، هغه د ځينو انقلابيانو کړنې وې چې يوه يې هم د ځينو ناوړه علماوو رول و، د بيلګې په توګه د بسام ضفدع رول، نوموړي د جهادي ډلو او خلکو د له منځه وړلو او تسليمولو لپاره ډېر خطرناک رول ولوباوه او دوی ټول يې د وخت جلاد ته تسليم کړل. هغه حقيقت چې لازم دی د نورو سيمو په اړه هم وپوهېږو، دا دی چې د انقلاب ماتوونکو چونګښو په څېر چې له ولاړو او خرابو اوبو پرته نمو او تکثر نه شي کولی، چټلې  اوبه چې مجاهدين پکې بوخت دي او له جهاده پاتې دي، په پای کې به ټول سنګرونه له منځه يوسي، لکه څنګه چې دا ډول پېښه د سوريې په شمال او جنوب کې پېښه شوې ده او په خپلو منځو کې په حرامه جګړه کې ښکېل دي او خپل دښمنان يې هېر کړي دي.

نو لازمه ده چې د امت يوه او واقعي استازي ځانته سياسي يوه رهبر وټاکي، اسلامي سياسي رهبر چې اسلامي نظام د امت د ژغورلو لپاره حمل کړي. بې له شکه چې له حزب التحرير پرته بله هېڅ ډله نشته چې له دې حالته د

امت د ژغورنې او یوځای کولو لپاره هر اړخیزه برنامه ولري. امت په دومره وخت کې په داسې خیالونو کې ډوب دی چې له هغو خیالونو به هېڅ هم لاسته رانه وړي او د بې اعتمادۍ له امله د خپلو مخلصو بچیانو نصیحتونو ته غوږ نه نیسي. مخلصو ناصحینو چې امت ته یې له موصیبتونو څخه خبرداری ورکوي او د انسي شیطانانو له اوربندونو او خبرو اترو چې ګواکې سولې ته یې نږدې کوي، هم خبرداری ورکوي. الله سبحانه و تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ﴾

[هود: 113]

***ژباړه:*** *ظالمانو ته مه نږدې کېږئ او خپل برخلیک هغوی ته مه سپارئ، که مو داسې وکړل، دوزخ ته به لاړ شئ او هغه وخت به له الله سبحانه و تعالی پرته بل هېڅ مرسته کوونکی نه لرئ او هېڅ څوک به تاسو سره مرسته ونه شي کړی.*

همدارنګه یې د امت مخلصو بچیانو ته له غولونکو خبرو اترو، له کفري دولتونو او د دوی له همکارانو سره له تړاو او د مسلمانانو له چارواکو او چټلو سیاسي مالونو خبرداری ورکړ، خو هغوی دغو مخلصو نصیحتونو ته غوږ ونه نیوه، د شیطانانو وسوسې یې ومنلې او دا یې د مصلحت یو فرصت وباله چې ګواکې د انقلاب مصلحت یې و، خو لکه څنګه چې وینو پایله یې  د تمې خلاف ده، د خاورو له تسلیمولو، وینې تویونې او د عزت تر پښو لاندې کولو پرته بل څه نه دي چې د ملګرو او مجرمو دولتونو په دستور دغه کار تر سره شو. مخلصو نصیحت کوونکو پرله پسې خبرداری ورکاوه چې یاد تړونونه په حقیقت کې هغه دام دی چې ستر دولتونه غواړي د اسلامي امت په خاورو او امت واک پیدا کړي او دغه کړنې موږ ته د یهود مذاکرات او د هغوی مسلمانوژنه رایادوي.
خو هغوی یې دغه دردمن نصیحتونه وانه ورېدل او د ژینو، ویانا، استانې، مسکو او ریاض کنفرانسونو ته لاړل او د یادو کنفرانسونو پایله د امت  اوسنی دردونکی حالت دی. دغو قضیو څرګنده کړه چې ملګري ملتونه له اسلامي امت سره ښکاره دښمني کوي او پر ټولو هغو جنایتونو چې په تاریخ کې تر اوسه چا نه و لیدلي، سترګې پټې کړې او په سیمه کې یوازې د دې لپاره پاتې دی چې د مجاهدینو او مسلمانانو د سیمو  روغتونونه په نښه کړي او روسانو ته یې د له منځه وړلو لپاره راپور ورکړي؛ لکه څنګه چې د اورینت رادیو د انګلیسي ورځپاڼې د راپور اړوند په غوطه کې داسې پېښه شوه.
اوس د دې وخت رارسېدلی چې اسلامي امت د خپلو بچیانو مخلص او دردمن نصیحتونه واوري، هغه مخلص بچیان چې امت ته په دغو نصیحتونو کې له خیر او مصلحت پرته د بل څه اراده نه لري. هغوی چې په دغو کنفرانسونو کې یې ګډون وکړ، تر اوسه یې پر امت له ظلم پرته بل څه نه دي کړي. حتا د دې لامل شول چې امت په بېلابېلو مصیبتونو کې وغورځوي، ځکه چې له کومې سیاسي پوهې پرته یې دغه کار وکړ، تر دې پورې یې ګومان یې وکړ چې د روسیې مجرم نظام چې تل یې د مسلمانانو وینه تویې کړې ده او د دوی په خپلمنځي وژنو کې یې هم لاس درلود، د مسلمانانو د وینې، عزت او برخلیک ساتونکی ده. خو په حقیقت کې دا پړاو د صادقو او

خایینو مومنانو د پېژندنګلوی پړاو و. لکه څنګه چې د الله سبحانه وتعالی سنت دي او لکه څنګه چې رسول صلی الله علیه وسلم په دې اړه خبر ورکړی دی چې خلک به په دوو ډلو وېشل کېږي او ان شاء الله چې د غوطې مسلمانان به د ایمان او مومنانو له ډله وي.

په پای کې اړتیا ده چې د هغې موضوع حقیقت چې ځینو ته ګونګ دی، روښانه کړم او هغه دا چې د سوریې دغه مبارک انقلاب په یوې ډلې پورې نه و تړلی، بلکې یاد انقلاب په امت کې رامنځته شو او ان شاء الله تر هغه چې بریالی نه شي او موخې ته ونه رسېږي غلی به نه شي. له دې انقلاب څخه موخه په امت باندې د تحمیل شوي ظلم لرې کول دي، خو هغه څه چې د یاد انقلاب موخه منحرفه کړې، هغه څه دې چې یو شمېر فاسدو او ضعیف النفسه انسانانو وغوښتل چې یاد انقلاب په نطفه کې غلی کړي او د کفارو د راضي کولو لپاره د امت د شعارونو مسیر کوږ کړي. یقینا چې دغه انقلاب همېشنی دی، سربېر پردې دې انقلاب د اسلامي خاورو خاین چارواکي، سپینه او توره مانۍ هم وارخطا کړې ده. که دغه انقلاب د خپل  امت له سیاسي مخلصو بچیانو څخه رهبر درلودلی، څه به شوي وی؟! د سیاسي او مخلص رهبر موخه به د انقلاب اصلي موخې ته رسول، د الله سبحانه تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم رضایت و او د نبوت پر منهج به یې خلافت تاسیس کړی وی؛ هغه خلافت چې الله سبحانه وتعالی یې زېری ورکړئ او فرمایلي یې دي.

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً﴾

[اسرأ: 51]

***ژباړه:*** *وایې بریا به څه وخت وي؟ ورته ووایه نږدې ده.*

**لیکوال: داکتر محمد حورانی**

**ژباړن: فیاض**